

په کابل ښار کې دغیرپلاني استوګنې ډول

## دکابل په ښار کې په ملکيتونوباندی شخړی او دځمکو دشخړوحل:

## پايله او نتيجه اخيستنه:

دغه يادښت دافغانستان په کليو کې دځمکو دلانجو دحل او دځمکې دتصرف او ترلاسه کيدو په اړه دسپارښتنو او ړانديزونو دپاليسي ميکانيزم وړاندې کوي، اوس مهال دکابل په ښار کې رسمي لانجې خورا زياتی دي، لکه چې هيله کيده په هماغه کچه زياتی هم نه بريښي ، ددې سره سره په ملکيتونو او جايدادونو باندې سختی لانجې ترسترګو کيږي، کومې چې دپاليسي دتطبيق په بهير کې دمالکيت دحقونو دهميشني نه خونديتوب له کبله او دې ته ورته دکابل ښار دغير پلاني سيمو داوسيدونکو د کورونو دويجاړولو له مخې پاتې دی.
دمخکينې سترايتژی څخه ننګه او تر پلان لاندې دسيمو دراوستلو چارې دپرمختګ لپاره ښۀ ژمنه ګڼل کيږي. رسمي او نارسمي دواړه ميکانيزمونه دځمکو دلانجو او شخړو دحل په برخه کې ډير ارزښت لري، دکابل ښار دغير پلاني سيمو کورونو ته داهميت ورکولو سره سره بايد ټولنيز ميکانيزمونه او جوړښتونه پياوړې شي، چې دپرتو شخړو دسمدستي حل ښه لا ګڼل کيږي .
عادی نورمونه ښۀ زمينه رامنځته کوي چې دهغوله مخې کولای شو دځواب ، ډاډا و اطمينان وړ سيستمونه رامنځته کړو، دملکيتونو دځانګړې محکمې په تشکيل کې چې زياتره دشخصي ځمکو دشخړو او لاندجو سره سروکار لري، په هغې کې بايد دپاملرنې وړ سمونې رامنځته شي، چې په پايله کې يې دټولنې په وړاندې دځواب ورکولو او دکړنو وړتيا نوره هم اوچته شي، په پای کې دسالمې ادارې اساسي اقدامونه بايد په عامه او ټولګټو بنسټونو کې، چې د جايدادونو معاملې او مسايل پکې حل کيږي ،تطبيق او پلی کړو.

١

### دپاليسی پيغامونه:

**په ملکيتونو باندی شخړی او دمالکيت دحقونو نه خونديتوب بايد په ځانګړی توګه ترلاس لاندی ونيول شي:**

رسمي لانجې او شخړې داسې ښودل شوي چې ډيرې لږې دې او حالت او وضعيت بهتره دجايدادونو دموقيعت ځانګړتياوو ، په برخه کې چې دې ته ليوال دی چې درسمي اقدامونو له لیارې او دپلان دتعقيب له مخې دهغو لګښتو نو او کورنی چارې او لانجې بايد د نوموړی محکمې له خوا تر سره شي، ددې برعکس دجايدادونو دهميشني خونديتوب نشتوالی، په ځانګړې توګه داکثريت برخليك ټاکي. دکابل په ښار کې دغه بنسټيز کار چې له تخليه لوکو څخه بيره او ډار لري، په عمومي توګه لدې کبله دي چې له ۱۵کالوراهيسې په دولتي ځمکو باندې پرته دې چې پلاني اجازه ولري.
په ناپلاني سيمو باندې په خپل سر هټی او کورونه جوړ شوی دي ، دشخصي حق دلرلو داقدامونو له مخې دخپلسريو کورونو پلاني کول راتلونکی ته يوه ښه لاره ګڼل کيږي .پلاني کيدل دجايداد موقيعت ډول دځمکې داستملاك عوايدو، او داستوګنې مودې او پرمختيا ته اړتيالري، (١- نومره پاليسی يادښت وګوری) که څۀ هم په خپله پلاني کول لانجې او شخړې رامنځته کوي او هغه محتاطانه رهبري او ادراې ته اړتيا ولري.

## ستراتيژي بايد دناپلاني کورونو دپلانې کولوبنسټ جوړ کړي

په داسې حال کې نيستمنو کورنيو ته په دولتي ځمکو باندې دهغو دکورونو دمالکيت دحقوقو دخونديتوب زمينه برابره شي او همدارنګه هغوې چې په پلاني توګه دولتي ځمکې په واک کې لري او غواړي له دغو ځمکو څخه پيسې ترلاسه کړي . بايد په دفتر کې ثبت او وليکل شي.

## دستراتيژي تفکيک او بيلول يا پرناپلاني او پلاني جايدادونو باندې دشخړاو لانجو حل بايد هيرنه کړو:

په عمل کې دواړه رسمي او نارسمي بهيرونه خپل نقش لري.
چې يو شمير پريپچلو عواملو، لکه دطبيعي پيښو دموقعيت او حل کولو له مخې تاکل کيږي، په بشپړه توګه غير عادلانه دي چې دهغوی په حل کولو کې تولنيزې مداخلې ترسره کيږي چې نوري بيا دنه اړتيا له مخې هم دولتي ادارو او محکموته رسول کيږي، په ځينو حالتونو دولتي اداري هغوې ته لاربنوونه کوي چې موضوعګانې بايد په نارسمي بڼه (دبيلګې په توګه دځلور خواو يا دعامه لارو ته درسيدنې په ډول پيښې) يا دسيمه ييزو عاملينو ( دترکې او ميراث) پيښې حل وفصل شي. په تولنيزه توګه درسمي او نارسمي اړيکو جوړښتونه ( اداري يا رسمي او تولنيز او سيمه ايز ) په خپلو منځو کې سره نژدې دي او کيدای شي چې په اغيزمنه توګه نور هم پکې ښه والی رامنځته شي. په محکمو کې په عادلانه قضاوت باندې دخلکو ډاډ عبارت دي له يوې ډيرې مهمې دورنما او لرليدڅخه چې دوروډلو په کچه دستونز اوشخړو دحل په برخه کې کار کوي.
دتولنيزو اړيکو واقعيتونه مخکې دپاليسي په قانون او لاربنود کې راغلي دي. شريعت ، دعامه قوانينو مجموعه او تولګه، عامه کړنلارې دهيواد پر قوانينو برسيره په ځانګړې توګه په کړنلارو باندې ټينګار کړي چې په عمل کې رسمي او نارسمي روند اوبهيرله مينځه وړي. په شريعت کې مينځګړيتوب دتطبيق په وړاندې په ثابته او بدلون نه موندونکې بڼه دنظام په لومړۍ کرښه کې راغلی ده. او دعامه قوانينو په تولګه کې سيمه ييز بنسټونه، ل شوراګانې اوسيمه ييز مشران دجوانبو اوارخونو له خوا په مسايل کې لاس لري ، پرله پسې پريکړې د سيمه يزو شوراګاو شتوالي او واک دعامه بهير په تولو اړخونو باندې اغيزه کوي.
دنوي اساسي قانون له مخې په عدالت دولسوالی ، سيمي او کلي په کچه دولتي منتخبو بنسټونو ته وليږدول شي( ۱۴۰ ماده) همدارنګه دسولې قضايي کميسون د(سولې دشوراګانو قانون) په مسوده کار پيل کړي دي. چې دا دشخړو او لانجو دحل په برخه کې دهغوی د درېځ پربنسټ دسيميزو شوراګانو دسيمې کولو ميکانيزم او جوړښت په مفهوم يو پيل ګڼل کيږي. که څه هم داوسنی وړانديزنوی قانون نقل دغه مساله دولسوالي او ولايت په کچه او ددولتي ادارو، لکه دحقوقو څارنوال او په خپله محکمې څخه ټاکل شوي وګړي او استازي يې غړيتوب لري، هغه محدودوې (۱۵ ماده) دنويو يادشويو بنسټونو موخه وداده چې دشخړه کوونکو ترمينځ سوله او روغه جوړه وکړي چې په حقيقت کې دشخړو کوونکو غاړو دوخت دضايع کيدو، سرګرداني، څخه په سوله يزه توکې دلانجو دحل لاره ده چې سوله يزه توګه له محکمو سره دلانجو او شخړو په حل کولو کې مرسته ګڼل کيږي (۱ماده) ددغو جرګو غړيوته مدد معاش نه ورکول کيږي.
دغه جرګه يا شورا لانجې لرونکو کسانو ته دسيمه يزو، دبشرحقونو داسلامي ارزښتونو او قانون په پام کې لرلو سره له هغوې سره مرسته کوي( ۷ماده) په داسې حال کې چې وړانديزيوې ګتورې معاهدې او زياتې پراختيا ته اړتيا لر چې کولای شي دپاني او ناپلاني چاپيريالونو ترمينځ ښه اړيکې رامنځته کړي.
دخلکو په وړاندې دحساب ورکولو دمحکمې کړنو او کړنلارو ته ښه والی ورکول دشخړو او لانجو دحل په لياره کې يو ګټور ګام ګڼل کيږي. چې دا کار په خپل وارد‌نويو لانجو او شخړو دمخنيوي په برخه کې هم کارنده ونده لري. داوسنی حالت دساتلو لپاره درسمي قضيو دعوی په اصل کې دملکيت بڼې د حالت له مخې ، څخه ګڼل کيږي چې په همدغه بڼه پاتې دی د دواړو دولتي او قانوني حمايت او ننګې څخه منطقي هدف او موخه داده چې دځمکو دشخړو او لانجو ځانګړې محکمه جوړه شي، چې هغه به يو کنټرول کيدونکی واحد وي او ناپيلي او په چاپوري ترلی به نه وي، چې کيدای شي داصلاحاو او سموني پيلامه يې وګڼو.
نوموړې محکمه بايد نظارتي يا دڅارنې او حمايوې يا ننګې سيستم ولري او اجرائيوي چارې يې په مسلکي بڼه وي، ترڅو وکړای شي په ښه توګه خپل ځان دخلکو په منځ کې ځرګند کړي، چې خلک هغه دصداقت ريښتنولي او عالت پيژندنې دکور په بڼه وپيژني. پرته ددې چې دغه محکمه څومره پيښي او قضيې حل وفصل کوي. محکمه ديو داسې جوړښت په بڼه چې دټولو خلکو ډاډ ترلاسه کړې وي او دا دښار دخلکو داطمنان وړوي او قانون په عمل کې پلي کړي. دا له ياده ونه باسو چې په اوسني حالت کې محکمه يوازې دښار دبډايو خلکو درسيدنې ځای ګڼل کيږي.
دکړنو له مخې داداري اواکونو دساحې دپراختيا

بهیر په ګټوره توګه پرمخ ځي او اداره نه یوازې عدالت دراستانه کیدونکو هیوادوالو لپاره، بلکې دملکیت په اړه دټولو شخړو او لانجو دحل پیښې، چې زیاتره پرجایدادونو رامنځته کیږي دا واك ورکول کیږئ او بل ګټورهدف دعامه اداري داصلاحاتو په منظور هماغه دښار والیو او وزارتونو کمیسونونه دي چې دځمکو دنمرو دکورونو، او اپارتمانونو دویش واك او صلاحیت لري ، هغه بدلون چې دجمهوري ریاست ددموکراتیکو ټاکنو سره په هیواد کې رامنځته شو، نوې موجود سیستمونه به دعامه سندونو دساتنې په لیاره کې داصلاحاتو عمده او غوره توکي وي.

## سیمه ییز بنستونه او دهغو عاملین دملکیتونو دشخړو او لانجو دحل په لار کې دپراخې ننګې څخه برخمن دي:

- ددې پرعکس دجایدادونو جذابیت ارزښت لري چې ځان له خطر او ګواښ سره مخامخ کوي او د اداري فساد او دسندونو دجعل کیدو لپاره زمینه برابروي او همدارنګه ستونزې او شخړې رامنځته کوي له دې سره سره دملکیت دسند (شرعي قبالې ) دسند په اجراء کې زیاتوالی نه دي رامنځته شوي.

ددې لپاره بیلابیلې ادعاوی راوړل کیږي ، چې دشرعي قبالی مسئاله دمالکیت دحقوقي خوندیتوب دلازمی سند په توګه نه ګڼل کیږي، داچې ددې اداعا لپاره زمینې وجود لري خو دمالیکت دحقوقو خوندیتوب اساسا دټولنیز ثبات او کورنۍ انجام په رابطه دغه مساله نشي ثابتولای.

په نارسمي برخو کې سیمه یزې اداري اود هغو ترسره کوونکي یا عاملین چې دجایدادونو شخړو دحل په برخه کې کارکوي دمرستې اوننګې دترلاسه کولو وړ دي. دشخړو اولانجو څخه لنډې تجربې او لاسته راوړنې چې ترلاسه شوي دي، ددې غوښتنه کوي چې سیمه یز ټولنیزجوړښتونه دې په پراخه توګه اجراات او کړنې تر سره کړي. دغه میکانیزم او جوړښت ددې لپاره ندې رامنځته شوې چې پیښې او قضایاوې له محکمو څخه لیرې کړي، بلکې موخه یې په اسانه توګه دلانجو حل اوفصل په پرله پسې توګه دلانجو او شخړو دحل سره همیشنۍ مرسته کول دي ، ساختمانونه او ودانۍ په هرځاې کې چې جوړې شوي دي منطقې او اساسي دي. دغه مسئاله باید په دا ډول حل وفصل شي چې دعامه اولس او دعادي خلکو ګټې خوندي پاتې شي او دنارسمي ارګانونو ګټې له خطر سره مخامخ نه کړي.

دملکیت دسندونو کمښت دعرفي قبالو سره په پرتله کې یوازې دشخړو او لانجو لامل نه دي ، او دپلانې ملکیتونو سندونه هم په یوازې توګه نشي کولاې

چې دملکیتونو په اړه ټولې لانجې اوشخړې غوځې کړي. هغوې چې دمالکیت دحقوقو دخوندیتوب لرونکي دي داسې کسان نه دي چې دملکیت شرعي قبالی په لاس کې ولري ،بلکې داسې خلك دي او د داسې ملکیتونو لرونکي دي چې لږ یا منځنی عاید ترلاسه کوي چې په ناپلانې سیمو کې استوګنه لري او ښاري خدمتونو ته لاس رسی نه لري، مهم عامل دا دې چې په لومړې سرکې زیاترو خلکو خپل ملکیت دعرفي قبالو یا میراثي قبالو له مخې ترلاسه کړي او هغه ملې رانیولۍ دي دویم دا چې په سالم ټولنیزو چاپیریلا کې استوګنه کوي چې سیمه یز حاکمیت او سیمه یزو نورمونو اوټولنیزو سیستمونو ته زیات درناوی پکې کیږي.

- دودیزو اوسیمه یزو نورمونو یوه داسې ښه زمینه رامنځته کړې چې دهغې له مخې کولې شو دملکیت دسند معتر، ځواب ورکوونکي او ډاډوړ

## سیستمونه رامنځته شي ،چې دغه سیستمونه په اسانۍ سره دښاري مالکینو په واك کې راتلای شي.

په دې معنا چې دستونزو او لانجو دحل په اړه دسکوب تشکیل ، دمالکیت دسیستمونو، دستراتیژیکي تفکیك او بیلتون یا په مطلقه بڼه په پلاني او ناپلاني جایدادونو باندې شخړې او لانجې باید هیرې نه کړو چې په عمل کې دواړه بهیرونه رسمي او نارسمي خپل دریځ او نقش لري، او دپیچلو عواملو، لکه دطبیعي قضایاو،د هغوې موقعیت او دحل لارې ټاکل کیږي، ځینې شخړې په بشپړه توګه غیر عادلانه دي چې دهغو دحل په برخه کې دی ټولنیزې مداخلې وکړل شي، په داسې حال کې چې یو شمیر پیښې بیا په غیرلازمي توګه دمحکمو او دولتي ادارو ته راجع کیږي. چې په ځینو حالتونو کې زیاتره رسمي ادارې هغوې ته وړ لارښوونې کوي چې موضوعګانې دي په نارسمي (مثلا دځلور خواو یا عامه لارو ته درسیدلو په شان) موضوعات باید دسیمه یزو عاملینو له خوا ( دترکي او میراث ) په شان پیښې حل او فصل شي. په ټولنیزه توګه درسمي او نارسمي اړیکو میکانیزم او جوړښت ( اداري ، سیمي ټولنیزاو سیمه یز) جوړښتونه باید سره نژدې کړل شي، او کیداې شي په اغیزمنه توګه کار وکړای شي.په محکمو کې په عادلانه توګه قضاوت چې دخلکو اعتماد او ډاډ ترلاسه کړي عبارت دي دلانجو اوشخړو دحل په اړه لیرې لرلید لرل چې دوړو ټولنو په کچه ترسره کیږي.

- یو زیات شمیر ښاري اوسیدونکي په ناقانوني توګه په دولتي ځمکو باندې استوګنه لري،چې له همدې کبله دملکیت سند (سیمه یز سندونه اوقانونی سندونه) په لاس کې نه لري. دغه مساله یوازې په دې توګه هم نشي حل کیداې

چې دملکیت سند دې یوازې دقبالی داخستلو له لیارې ترتیب شي او په محکمه کې لاس ته راشي ، په عملي بڼه تولنیز ارزانه او سیمه یزارزانه سیستمونه شته چې دشواهدا د ساتنې او ځارنې لارې موندلې شي. دغسې یو سیستم کیداې شي دموجودو سیمه یزو دودونو پر بنسټ جوړ شي، ددغه سیستم دعصري کیدو بیلګې کیداې شي چې دشواهد و او سندونو یا بیلګو مرکز دتولنې دسیمه یزځاې په کچه دتولنې دعاملینو په شاملیدلو سره رامنځته شي او ځارنه او ساتنه یې وکړل شي، دغه مساله نه یوازې دسندونو دډاډ او ساتنې ځواب ورکوونکې ګڼل کیږي، بلکې په زرګونو کورنی چې غواړي دلندمهال او اوږد مهال لپاره دخپلو جایدادونو دخوندیتوب په اړه مدارک او سندونه وساتي له هغوی سره په لږ لګښت مرسته کولاې شي.

۲

## دکړنو له پاره وړاندیزونه

په پراخه توګه دکابل په ښار کې دملکیتونو په برخه کې زیاتې شخړې دقانون دکمزورې واکمنی او په زرګونو هغو کورنیو لپاره چې بې کوره دي، داستوګنې دکورونو نشتوالی مساله په بڼه توګه څرګندوي.
هغه غوښتنې او اړتیاوې چې کولاې شي دځمکې په اړه لانجې راکمې کړي دالاندې کړنو او اقدامونو ته اړتیا لري:

- دکابل په ښار کې ددولتي ځمکو دغیر پلاني تصرف او ولکې څخه مخنیوی.

- دهغو ځمکو ګرندې تصرف چې لږ تر لږه په هماغو سیمو کې دڅاپیریال ککړتیا او ودانې لږې لیدل کیږي.

- دستونزو او لانجو دحل په اړه دغیردولتي سازمانونو او دپلاني جوړښتونو او تشکیلاتو دوضعیت دلوړولو او ښه کولو په برخه کې اقدامات.

- قضایي سیستم کې اصلاحات، تر څو چې لانجو اوشخړو دحل په برخه کې دخلکو ډاډتر لاسه کړي.

- دخپلواکو پلاني مرستندویو خدمتونو دتامین په برخه کې هڅونه

- په عامه سکتور کې دکړنلارو او دپالیسو په برخه کې اصلاحات او سمونی.

- دروڼوالي اوشفافیت دمنلو په اړه اقدامونه، چې دجایدادونو او ځمکو دسکتور دبرخود تصمیم نیولو دجوړ جاړې او بډو اخیستلو مخنیوې وکړي، او داسې رسمي کړنلارې جوړې شي چې دعامه خلکو و ورځینو غوښتنواو اړتیاووته ځواب وویلای شي.

- دلنډیز په توګه ویلای شو، هغه ډیره لویه غوښتنه او اړتیا چې وکولای شي په ښار کې دملکیتونو په اړوند مسایل په ښه توګه تنظیم کړي او عدالت په پام کې ونیول شي، هماغه درهبرۍ ښه معیارونه دي، چې ددغو کړنو په واسطه کولاې شو چې دملکیتونو داعادې او ترلاسه کولو په برخه کې دقانون وپه واکمنی اوپر دولت باندې دخلکو ډاډپیداشي.ددولت په داسې موقف کې نه دي چې وکړای شي چې تولې مطلوبې غوښتنې په نیغه تعقیب کړي ،ولې په لږواقدامونو سره کولاې شي دچارو دسمون په برخه کې یوښه بنیاد او بنسټ جوړ کړي.

## دپراختیا ښه والی دتمرکز په اړه دځمکو دشخړو دځانګړې محکمې اهداف اوموخې:

په هرحال دمحکمو دتولو سیستمونو په وړاندې دخلکو د ډاډ کچه کمزوري ده او نشوکولاې چې تول خدمتونه په یوه وخت کې وارزویابي او یا هغو ته سمون ورکړو. دځانګړې محکمې دجوړولو څخه موخه داده چې دځانګړیو مسوولیتونو او پرځمکې باندې دزیاتو شخړو، دچارو دبڼه والی په برخه کې ښه تمرکز دځمکې دشخړو دحل دځانګړې محکمې دظرفیتونو او دحساب ورکولو په چارو کې ښه والی رامنځته شي چې دا داصلاحالتو لومړي هدف او موخه ده.
خو پردغې محکمې باندې دخلکو د ډاډ ترلاسه کول یوه اوږده لار ده ، تر څو وکړای شو په عدلی چارو کې په عمومي توګه دخلکو غوښتنې او ډاډ ترلاسه کړو، دقضایي کمسیون زیاتره وړاندیزونه باید دعدلي سیستم دارزیابی له پاره دلومړي ګام په توګه، په تیره بیا ددغې محکمې په اړه تطبیق شي او ستره محکمه دې دمسلکي او پرمختیا یې پلانونو له مخې له مسلکي وګړیو څخه دمحکمو دبیا ځلي جوړښت او قضایي خدمتونو دپرمختیا په برخه کې ګټه پورته کړي.
پرنورو موارډو برسیره دالاندې اقدامونه دي هم تر کړنې لاندې ونیسي:

- ځانګړيو محکمو ته دصلاحيت په ورکولو کي زياتوالی راولی، ترڅو هغوی وکړاي شي دځمکو لانجي چي دملکيت دغير پلاني ادعا په اړه مسايل چي دراستانه کيدونکو (او کورني بې ځايه شوي ) خلکو چي دهغوی دنشتوالي څخه په سيمه کي خلکو ناوړه ګټه پورته کړي او دهغو ځمکي يي ترخپلي ولکي لاندي راوستلي داډول پيښي حل وفصل کړي.

- دهيواد په بيلو بيلو زونونو کي دفترونو اوځانګو دجوړولو له لياري دتولني لپاره دمحکمي دخدمتونو پراختيا دکابل ولايت په محکمو کي دزياتو دلوړ رتبه قاضيانو ګمارل، چي وکړای شي دقاضيانو دارزيابی او څارني تيم چي له (۱۰) تنو څخه جوړ شوی دی هغه پياوړی کړي، ترڅو هغوی دمحاکمي دري ځانګړې تيمو نه جوړ کړي. دڅارني او پلټني چارې دتصميمونو دنيولو او دحکمونو دصادرولو بهير ګړندي کړي.

- دپيښو دحل پلټني او دارزوني يا ارزيابی‌دچارو په ګرنديتوب کي دزياتو خدمتونو تامين.

- دترانسپورت برابرول، چي دکابل نه بهر پيښو او قضاياو لپاره سفريه او قاضيانو ته ورکړل شي چي هغوی وکړای شي دپيښي له ځای څخه ليدنه کتنه وکړي او دګاونډيانو څخه شهادت او شاهدي ترلاسه کړي.

- ددولت درئيس داوامر وتطبيق، چي دکورنيو چارو وزارت ته يي سپارښتنه کړي ، چي دځانګړيو پوليسويو ځانګړې ګروپ په محکمو کي وګماري چي هغوی دکشف مسووليت او دمدعي عليه احضارول محکمي تر وکړاي شي ته څو پر هغه قانون تطبيق شي.

- دپلاني مودې زياتول چي له هغي څخه په ګتي اخيستني سره د ۲څخه تر ۳ مياشتو پوری دپيښي اړوند چارې په ښه توګه ترسره شي.

- دقاضيانو لپاره دزده کړې کورسونه جوړول، چي هغوی داډ ترلاسه کړ دقوانينو ، احکامو او مقرراتو تطبيق، په تيره بيا دنظام نامو ، مدني کړنلارو او دملکيت په اړه دهيواد دنافذه قوانينو په برخه کي خبرتيا ترلاسه کړي او خپل مهارتونه دمدراکو او شواهدو دلاسته راوړلو، دهغو تحليل ، تجربې، ثبت او راټولولو په برخه کي پياوړی کړي

- دهغو قاضيانو داستخدام او ګمارلو په برخه کي چي دنوي زده کړي او ډيښه وړتيا او اهليت څخه برخمن وي، محدوديت رامنځته کړي پورتني سپارښتني بايد دعامه حساب ورکولو دپلان لياري پياوړې شي. داسي پلان دا لاندې موارد په برکې نيسي:

- قاضيان په دې اړو ګني په هغه صورت کي چي په ټاکلي موده کي پيښه ارزيابي نه کړی حساب ورکړي. په پورتينو ا وجراتوکي څنډ داستعلام له مخي دټولو معلوماتو په ورکولو کي هڅه کول،او دپلټني هغه واحد ته ددغو معلوماتو په لاس کي ورکول، کوم چي دمدارکو دراټولولو او ثبتولو لپاره منل شوي سيستم جوړوي .

- محمکه دې ته اړباسي، چي دتصميونو بشپړمتن ترتيب کړي او دخلکو دغوښتني په صورت کي هغه دهغو په واك کي ورکړي .

- محکمه دې ته اړباسي چي خپلي عملي نظام نامي جوړی کړي او په ناحيو کي خپل هری ځانګی او دځانګړی محکمي هرې ځانګی ته يي واستوي او معلومات دعامه خلکو ته وړاندې کړي او په پاې کي دمحکمي رئيس دې ته اړ کړي چي دمحکمي دکړنو دڅارني او پلټني دچارو او دکاري پرمختګ کالني رپوټ په مطبوعاتي کنفرانس کي وړاندې کړي.

### دنارسمي ميکانيزم او عامه همکاريو څخه په ګټي اخستيلو سره په محکمو کي دپيښو اولانجو د ورتګ په اړه مرسته او همکاري

- دغه چاره به ښه توګه په ټاکليو ناحيو کي تراجراو لاندې ونيول شي او ازمايښت به کړل شي. دګذر وکيلان دجوماتو دشورا او نورو نارسمي بنستونو، لکه تولنيزو کميتو، چي جوړی شوي دي، په دغه بهير کي داخليږي او همدارنګه دځمکي په اړه نوې سيمه يزې کړنلارې جوړيږي او کولاې شي په هغو سيمو کي چي دطرحواوپلانونو پياوړتيا او کوم داستوګني ناپلاني کورونه چي يي په پلان کي راوستلي دي، واقع کيږي.

- هميشني نوي بنستونه مناسب نه ګڼل کيږي، دا ځکه چي هغوی هميشنی مرستي او ننګې ته اړتيالري.

- هغه څرګندي مقرري چي په هغو کي تولنيزکارکوونکي دکميتو لاړښوونکي دشخړو

دمناسب حل په اړه توافق ولري دغیررسمي میکانیزم او جوړښت دواك دلوړولو په برخه کي مرسته کولای شي، چي په دغه اړه قانوني اساسي کړنلارې دمنځګړیتوب بهیرونه دسولي او مصالحي په برخه کي وړ مرسته کوي لاربنود نه کولای شو په دغه برخه کي زيات کړو او دیدله یزو رسنیو، لکه راډیو، تلویزیون او مطبوعاتو له لیارې یې خپاره کړو.

- دپریکړو او مصالحي ساده او درپوټ دثبت ساده سیمستمونه باید پراختیا وموومي او هغه نیوکي چي سمدستي رامنځته کیږي. په دې معنا نه دي چي داډول تصمیمونه دقوانینو دتنفیذلامل ګرځي.

- همدارنګه هغه پرمختیاوې چي دوړاندیزونو دښه ترسره کیدلو لپاره مخکي دجرګو او دسولي دشوراګانو له لیارې دناحیو په کچه وړاندې شوي دي دوام مومي، چي دغه ووړاندیزونه پیاوړي دي او کولاې شي ټولنيز اورسمي میکانیزم او جوړښت سره ګډ کړي، ترڅو وکړای شي محکموته دقضیو او پیښو دورتګ مخنیوی وکړي.

**دښار او کور جوړولو وزارت دکارکوونکو د ټآکنو درهبري په نویو سیستمونو کي همکاري دځمکي دویش په چارو کي دنظارت او څارني دپګر دتنګولو د اقدام په معنا وي، ترڅوهیڅ یو وګړي ته اجازه ورنه کړل شي چي داستوګني یوه نمره چي دښار والی ادونډې له خوا هغه ته ورکړل شوې وي یا ددولت له خوا جوړه شوي وي، ځانته وپیري.**

- خپلواك عملي دڅارني او پلټني کار چي هغه کورونه او اپارتمانونه چي دښار او کور جوړولو وزارت دساتني او څارني په ریاست ا وښاروالی کي ثبت دي په ټینګار سره دهغو کسانو دمالکیت سلبل کوم چي داستوګني دیوې نمرې څخه زیاتي نمرې ولري، په همدغه اړه یو پیاوړی سیستم رامنځته کول.

- دښار او کور جوړولو وزارت دکور جوړولو ریاست نه دکمپیوتري خدمتونو تامین ددې لپاره چي وکړاې شي دبلاکونو ثبت او راجستر کتاب اوس قلمي سندونه دي او ساتل کیږي هغه کمپیوټر کړي چي لدغي لارې څخه داپارتمانونو خاوندان ډیر ښهٔ پیژندل کیږي ( دهغه میرمن او یا دکورنی بل غړی) چي دیو نه زیات اپارتمان

- دعامه حساب ورکولو د کړنلارو دجوړولو او دواکمنو کسانو دداسي تصمیمونو دنیولو رپوټ ، تخصیصونه او همدارنګه دښار جوړولو ا وښاروالي دداخلي شکایتونو داوریدلو دکمیسون پریکړې او په پای کي:

- دهغو کارکوونکو په اړه تعقبي منظم پلان جوړول چي په بدو او اداري فساد بوخت دي، د ۲۰۰۱ کال دسیپتمبر دمیاشتي څخه وروسته یې داپارتمانونو داستوګني دنمرو او عامي ځمکي دویش په اړه او دونډې یا دانکشافي ځمکو څخه په ناوړه ګټې اخستني تورن پیژندل کیږي.

- په اوږد مهال کي ددولت دساختماني کورونو دخصوصي کولو په اړه تحرك، چي دپلورلو له لیارې مینه والو ته ورکول کیږي. په همدغه توګه دڅارني او ساتني دمسوولیت انتقال یې هم په هغوې اړه مومي او دښآري ځمکو دجوړولو خدمتونه او په دغه اړه پانګي اچولو زمینه برابرېږي

---

دپالیسي دغه یادښت په نریوال بانك کي دجنوبي آسیا دزیر بنایي او انرژي واحد له خوا دسندونو له مخي ترتیب شوي دي.

کابل: دښاري ځمکو لانجي او شخړي، د ۲۰۰۵ کال دسپتمبر دمیاشتي دپالسي یادښت چي د ۲۰۰۴ کال دسپتمبر دمیاشتي څخه د ۲۰۰۵کال دجنوري ترمیاشتي پوري چي کومي څیړني ترسره شوي وي ،برابرشوي دي.